


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژوندانه کوچنی لارښوونې

ليکوال: ايچ جکسن براون
ژباړن: شوکت الله عابد

کابل-۱۴۰۱ل. کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

## د کتاب پېژندنه

دکتاب نوم: **د ژوندانه کوچنۍ لارښوونې**
لیکوال: **ایچ جکسن بروان**
ژباړه: **شوکت الله عابد**
ایډیټ: **ش. عابد**
د ژباړې کال: **۱۳۹۳ کابل**

د ژباړې ټول حقوق له ژباړن سره خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

ټول انسانان او موجودات چې په دې نړۍ کې ژوند کوي یو له بل سره سیده او ناسیده اړیکې لري. همدارنګه دا اړیکې د یو بل پر وړاندې د خورا ارزښت او اهمیت درلودونکې او متقابلې وي او د موجوداتو د ژوند د بقاء او پایښت لپاره اړین شرط ګڼل کېږي. د همدغو اړیکو پر بنسټ، ژوندي انسانان چې سالم فکر او احساس ولري هغوی تل د نورو د پرمختګ په موخه ټولنیز- اقتصادي فرصتونه ایجادوي، چې په همدې توګه ټولنه او وګړي نېکمرغه کېږي.

له بلې خوا، د مړه او ژوندي تر منیځ توپیر هم همدا مثبت فکر او ټولنیز احساس دی؛ نو د ژوند د پایښت او د اړیکو د غښتلتیا او د مثبتو انګېزو د ایجاد او پاللو لپاره په انساني ټولنه او ژوند کې ځینې ارزښتونه وي، چې پېژندل، منل او پالل یې د ټولنې د ښه نظم د ایجاد په موخه اړین دي.

له یوې خوا مو ټولنه سنتي او ژوند مو له ډېرو ننګونو سره مخ دی چې د تېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګړو پایلو او څپو ځپلی او همدارنګه زموږ دود بهرنیو کلتورونو (فرهنګونو) د یرغل ښکار شوی او تر ډېره یې زموږ دودیز قومي، ملیتي، ژبني وحدت ته لوی زیان دی، چې د دغه بدبختیو څخه په هره برخه کې متاثره شوي یو.

د علم، پوهې، د عصریت او پرمختګ په دې موډرنه نړۍ کې اوس د هغو وګړو ځای او مقام اوچت دی چې ارزښتونه مني، پالي یې او په ځان باورمن هم دي چې د همدې باور په لرلو سره د ځان او د ټولنې د پرمختګ انګېزې ایجادېږي او د بدبختیو مخه ډب کیدل شوني کېږي.

د پرمختګ او خوشبختیو د انګېزو په ایجاد کې شاید ډېرو لویو او وړو کارونو ته اړتیاوې وي چې باید پاملرنه ورته وشي. د ژوند په خوشبختیو کې د ژوند ټول اړخونه کره اهمیت لري او هر اړخ ځانګړې فلسفه، راز او اهمیت لري. همداراز د خواهشاتو کابو کول او د ځانګړیو لارښوونو عملي کول د نزاکتونو مراعت کول هغه څه دي چې د ژوند کولو لومړنۍ ټولنیزه او فردي اړتیا یې ګڼلی شو.

پاک قران او نبوي حدیث انساني او اسلامي اداب او نزاکتونه را زده کوي، هره لارښوونه او د ژوندکولو هر معیار په پاک دین کې ځای لري، موږ یې په زده کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او عمل مکلف یو.

دا چې هر ساده، بسیط فن او بیان مو د ټولنوالو په ژوند ډېر اغېز لري؛ نو په همدې پلمه مو هڅه کړې چې د ژوندانه کوچنۍ لارښوونې تر عنوان لاندې اثر چې د ایچ جکسن براون په نوم یو امریکایي لیکوال په درې برخو او پړاونو کې لیکلی دی، یو برخه یې چې زموږ د اسلامي او افغاني ټولنې له ارزښتونو سره اړخ لګوي، پښتو ژبې ته راوژباړم. په همدې سره مو د دې لنډو لارښوونو لوستو ته رابولم.

**په پښتنه مینه**

**شوکت الله عابد**

**کابل- افغانستان ۱۳۹۴**

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱

۱ په هر پسرلي کې گلان کره.

۲ د (مننه کوم) او (هیله کوم) له کلمو څخه ډېر کار اخله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳
په کور کې یو حیوان (ژوی) وساته.

۴
لږ تر لږه په کال کې یو ځل د لمر راختلو ننداره کوه.

۵
ملګرتیا په ربښتینولی او صداقت کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦ د خبرو پر مهال د نورو سترګو ته ګوره.

٧ د عوایدو په پرتله لږ مصرف کوه.

٨ که توان يې لرې، نو قيمتي کور او ارزانه موټر وپيره (واخله).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹

ښه، ښه کتابونه وپیره ولو که لوست یې هم نه کوې.

۱۰

ښښونکی اوسه (خپل ځان او نورو ته ښښنه کوه)

(c) ketabton.com: The Digital Library





۱۱
تـل هڅـه کـوه چـې بـې لـه کومـې وجـې خــوښ اوســې.

۱۲
پورونه دې ژر ادا کوه.

۱۳
نورو ته لارښوونه کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴

له نورو څخه زده کړه کوه.

۱۵

لـه نـورو خلکـو سره داسـې سـلوک کـوه لکـه څنگـه چـې دې لـه څانـه سره د نـورو سـلوک خوښـېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



١٦
د زوکړې په ورځ دې یوه ونه (نیالګی) وکره.

١٧
په کال کې یو یا دوه څله خپله وینه ورکړه.

١٨
نوي ملګري پیدا کړه مګر زاړه ملګري دې ډېر قدرمن وګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹

د راز ساتونکی اوسه.

۲۰

د بریالیو شېبو یادگارونه ساته.

۲۱

هیڅکله مه تسلیمېږه، هره ورځ نوې، نوې معجزه واقع کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۲
نورو ته زیات د (مننې) یادښت لیږه.

۲۳
د خوښیو نمانځل مو سبا ته مه پریږده (د خوښیو نمانځنه کوه)

۲۴
خپل وخت دې د سوداګرۍ په چلونو مه ضایع کوه، په بدل کې په خپله سوداګري زده کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۵

رایــــه ورکوه.

۲٦

ملگــري دې پــه یــوه ناخاپــي ناخیــزه ډالــۍ خوشــحاله کــړه.

۲۷

نــور خلــک مــه ملامتــوه، پخپلــه د ژوندانــه مســؤلیتونه ومنــه.

(c) ketabton.com: The Digital Library




۲۸

له بدو شرایطو څخه تر ډېره زده کړه وکړه.

۲۹

هغه لباسونه چې د تېرو دریو کلونو په موده کې دې نه وي کارولي؛ خیرات يې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۳۰

په داسې شکل ژوند وکړه چې اولاد دې ښه والی، مهرباني او لویوالی و ویني، ور په یاد شي.

۳۱

له طبیعي شوخی څخه د خوښی لپاره کار اخله، له هغه څخه بده استفاده مه کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۲

د هـرې رسـنۍ خبرونـه جهـت لرونکـي وي، مـه تـرې متاثـره کېـږه.

۳۳

د پرمختګ په لټه کې اوسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٣٤

زړور اوسه حتی که له زړه څخه زړور هم نه یې، او زړورتیا دې ښکاره کړه هیڅوک به یې په توپیر پوه نه شي.

٣٥

کوچنیانو ته د سزا ورکولو پر ځای هغوی په غبرکې نیسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٣٦

د لاسي ښکلو شیانو جوړونه زده کړه.

٣٧

که چا لاس درکړ، نو تاسې هم په خورا لیوالتیا او ورین تندي لاس ورکړئ.

٣٨

نیمګړتیاوې دې ومنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۹

هیڅکله مو د واده کلیزه (نېټه) له یاده مه باسئ.

۴۰

له خپل وخت او مال څخه په خیریه چارو کې مرسته کوه.

۴۱

روغتیا دې کمه مه ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۲

که ښه عواید هم ولرې؛ نو اولادونه دې مجبور کړه چې پخپله کار وکړي او د خپلو پوهنتونونو فیسونه پخپله اداء کړي.

۴۳

د کنایي کلمو له کارونې څخه ډډه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۴۴

په دنده او کورنۍ کې اعتماد او باور غوره شی دی، له لاسه یې مه ورکوه.

۴۵

پخوانيو ټولګيوالو سره مېله (بنډار) کوه.

۴٦

له عصري ټکنالوژۍ سره ځان بلد کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۴۷

هیچا ته اجازه مه ورکوه، چې تا ته په تیټه سترګه وګوري.

۴۸

هیڅکله د بايللو له توان څخه پورته پانګونه مه کوه.

۴۹

د هیواد اساسي قانون ولوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۰

د ژونـد ملگـرې (مېرمـن) دې پـه ډېـر دقـت سره وټاکـه، ځکـه چـې ۹۵ سلنه خوشـبختی او بدبختـی د همدې پریکـړې لـه امله دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۵۱

تل خپل مخ ته یو ښکلی شی ږده که څه هم یوګیلاس کې ګل وي.

۵۲

یواځې هغه کتابونه خلکو ته امانت ورکړه د کومو کتابونو په نه لرلو چې ته نه ناراحته کیږې.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۵۳

لويـو افـکارو بانـدې فکـر کـوه، خـو لـه کوچنيـو خوښـيو څخـه خونـد اخلـه.

۵۴

د مالي راپورونو لوستل زده کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۵

یو وخت دی اولادنو ته ووایه، چې هغوی خومره نازولي دي او تاسې په هغوی خومره باور لرئ.

۵٦

له بانکي کارت څخه د سهولت لپاره کار اخله، نه د باور د پیدا کولو لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۷

پریمانه موسکا کوه، قیمت نه لري، خو ارزښت یې ډېر دی.

۵۸

د زوکړې په ورځ دې خپل ځان ته د مبارکۍ پیغام پرېږده.

۵۹

هره ورځ ۳ دقیقې تېز پیاده مزل وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٠
هیڅکله تقلب مه کوه.

٦١
د شپې په اخر کې د وچې مېوې پر ځای تازه میوه وخوره.

٦٢
هیڅکله هم د چا مقدساتو ته سپکاوی مه کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٣

هیڅکله له پولیسو سره د بحث په وخت کې هغوی ته (ته) خطاب مه کوه.

٦٤

په پخلنځي کې د اور وژنې توکي وساتئ.

٦٥

یو کال موده وتاکه او مقدس کتاب دې ایت په ایت ولوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library


٦٦

په ژوندوني دې وصيت پانه وليکه.

٦٧

د خلکو نومونه په ياد لره.

٦٨

د مملکتونو د پايتختونو نومونه زده کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٩

هر کله چې چا د خپل ژوند مهمه پېښه تشریح کوله نو د خپل ځان په اړه کیسه کولو کې له هغه شخه مه لومړی کېږه، هغه ته وخت ورکړه.

۷۰

ارزانه او قیمته شیان مه اخله، بلکې د اړتیا وړ توکي دي د ښه نوعیت شخه وټاکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٧١

ساعت دې پنځه دقيقې مخکې اعيار کړه.

٧٢

هـر کلـه چـې وغـواړې يـو کار تـه لاس وروړې نـو د بـې پيسـګی لـه أملـه تشـويش مـه کـوه، کـم مـالي امکـانـات مصيبـت نـه، بلکـې نعمـت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۳

د نـورو امیدونـه مـه وژنـه، ښـايي دا یـې د ژونـد ځانګـړې پانګـه وي.

۷۴

په کړه ملا د تشناب له کاسې خخه مه پاځیږه.

۷۵

د غاښـونو د کریـم لـه مـصرف خخـه وروسـته د کریمـو د بوتـل سرپـوښ بنـد کـړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷٦

کاږه او خراب غاښونه دې د غاښونو د ډاکټر په همکاری جوړ کړه.

۷۷

مخکې له دې چې، هغه چا ته ځواب ورکړې چې په غصه کړی یې یې، ځان ته وخت ورکړه چې ارام شې، که موضوع ډېره مهمه وه، نو ځان ته یوه شپه تر سهاره وخت ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۸

د ځان لپاره سپورتي ملګري پيدا کړه.

۷۹

ځان د هغه بانک له مدير سره آشنا کړه چې د کوم بانک مشتري ياست، د هغه شخص، شخصي دوستي له تا سره ارزښت لري.

۸۰

د کوچنيانو برياوو ته لومړيتوب ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۸۱
د خوراک (ډوډۍ خوړلو) په وخت کې تلویزون بند کړه.

۸۲
د وسلې سمه کارونه زده کړه.

۸۳
په اونۍ کې یوه وخت خوراک مه کوه او مصارف یې یو فقیر ته ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۴

لـه یـوه وکیـل، محاسـب او یـو زحمـت کشـه نلـدوان سره ملگـری شـه.

۸۵

د مـلي سرود د ویلـو پـه وخـت کـې ودرېـره او خپـل لاس پـه زړه کیـږده.

۸۶

په ملي ورځو کې په تېرو ویاړونو و ویاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸۷

وصيـت پانـه ولـره او د سـاتنې ځـاى يـې خپلـو وارثينـو تـه وښـايه.

۸۸

د پرمختګ لپاره تجربې نه، بلکې تل هڅه کوه.

۸۹

د سرو ګلونو د بوى کولو لپاره وخت ځانګړى کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹۰

د موټر چلولو په وخت کې له ساتونکي کمربند څخه کار اخله.

۹۱

د شیانو د ترلاسه کولو لپاره دعا مه کوه، بلکې د عقل او زړورتیا لپاره دعا کوه.

۹۲

مهربانه سختګیر اوسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹۳

د کار میز او کاري چاپیریال دې منظم وساته.

۹۴

وخت پېژندونکی اوسه او نورو ته هم د وخت پېژندنې سپارښتنې کوه.

۹۵

د هغې نیوکې د دفاع په مقابل کې چې پر تا شوې وي وخت مه ضایع کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٩٦

په دې پلمه بخل مه کوه، چې اولادونو ته دې په میراث کې پیسې پرېږدې.

٩٧

له منفي آند لرونکو خلکو څخه لرې اوسه.

٩٨

د خپل شرف او عزت خیال ساته.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۹۹

ځان تل پاک او ښکلی ساته.

۱۰۰

له دې شخه ډېره وکړه چې نورو ته وواياست چې څرنګه کار وکړئ، په بدل کې يې هغوی ته ووايه چې يو کار بايد وکړي، کېداى شي چې هغوی تاسې په خپلو ابتکاراتو حيران کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰۱

خپل اولادونه وهڅوه چې له ۱٦ کلنۍ څخه وروسته نیمايي ورځ کار پیدا کړي.

۱۰۲

هغه متن چې باید لاسلیک یې کړئ په دقت یې ولوله او په یاد ولره چې معمولاً لوی لاسلیکونه د ورکولو او کوچني لاسلیکونه د غوښتلو په معنی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰۳

نورو ته دوه ځلې فرصت ورکړه، خو درېیم ځلې نه.

۱۰۴

کم ارزښته شیان تشخیص او بیا یې نا ګڼلي ونیسه.

۱۰۵

هیڅکله هم په قهر او غصه کې کومې کړنې ته لاس مه اچوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰۶

هـر چیـرې چـې لـه وختـه مخکـې پرېکـړې او تبعیـض سره مخامـخ شـولې، نـو په مقابـل کـې یـې مبـارزه وکـړه.

۱۰۷

په کــار مئین اوسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰۸

اجازه ورکړه چې نورخلک پوه شي چې د څه په اړه مقاومت کوئ او د څه په اړه يې نه کوئ.

۱۰۹

د نوې دندې له پیدا کولو د مخه دې اوسنۍ دنده مه پرېږده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



١١٠

د خپلې مېرمنې ښه ملګرى اوسه.

١١١

ډېر زيات او نه سترى کېدونکى لټونکى اوسه
او د (ولې) له کلمې څخه کار مه اخله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



١١٢

خلک د هغوی د ژړونو پر بنسټ وزن کړه د هغوی په بانکي حسابونو سره نه.

١١٣

دهغه مثبت آند لرونکي او له شوره ډک شخص په شان اوسه چې پېژني يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱۴

فکر مه کوه چې خپلو اولادونو ته بهترین شیان ورکړې، بهترین هغه څه دي چې ته يې ورکوې.

۱۱۵

کم غوږي کاروه.

۱۱۶

کمه مالګه خوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۱۷

نـوي گاونډیـان دې په یـوه قـاب پـه زړه پـورې خـوړو وراسـتولو خوشـحاله کـړه.

۱۱۸

د یـو ځـای کیفیـت د هغـه ځـای د اوسـیدونکو لـه رفتاره وسـنجوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۱۱۹

سره غوښه کمه خوره.

۱۲۰

په ټولو سیاستمدارانو مشکوک اوسه.

۱۲۱

د ټولو موجوداتو ژوندانه ته احترام ولره.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۱۲۲

هغه کار وټاکه چې ستا له ارزښتونو سره همغږي ولري.

۱۲۳

له هیچا سره حسادت مه کوه.

۱۲۴

له ځان سره د ځان جوړوني وعده وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲۵

پرته له هغه څه چې په مرګ او ژوند پورې اړه لري، په فکر کې یې مه اوسه، هیڅ شی دومره مهم نه وي لکه چې په اول کې ښکاري.



۱۲۶

هر وخت چې یو څوک ستا تعریف کوي، نو منـنه تـري کـوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۲۷

هغه اداره چې تاسې يې استخدام کړي ياست، په صداقت او ميړانه ورته نه ستړې کېدونکې خدمت کوه؛ دا به ستا د ژوند له مهمو پانګونو څخه وي.

۱۲۷

د کوچنيوالي وخت او مستۍ دې له ياده مه باسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۱۲۹

د خپلو سهوو لپاره دې په ماتم کې وخت مه ضايع کوه، له هغو څخه درس واخله او پر مخ ولاړ شه.

۱۳۰

د ښوونځيو د زده کوونکو د لاسي کارونو په ندارتونونو کې ګډون وکړه او يو څه ترې واخله.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۱۳۱

اجازه مه ورکوه چې تیلفون دې د ژوند د مهمو شیبو مزاحم شي، تیلفون ستا د سهولت لپاره دی نه د تیلفون کوونکي د سهولت لپاره.

۱۳۲

ښه بایلوونکی اوسه (په بایللو مه مایوسه کېږه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



١٣٣

هیڅکله هم د لوږې په حال کې د خوراکي توکو پېرودلو ته مه ځه، ښايي له اړتیا څخه ډېر توکي و پېرې.



١٣٤

له حقدار څخه د حق په پېژندنه ډېر تأکید کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳۵

په ګوښه ځای کې په نورو نیوکه کوه.

۱۳۶

د نورو یادونه (صفت) او تعریف په ډله او اجتماع کې کوه.

۱۳۷

هیڅکله چا ته مه وایه چې ستړی او افسرده ښکارې.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۱۳۸

د ژوند په ځینو چارو، لکه واده او مالي برخو کې چاته مشوره مه ورکوه.

۱۳۹

څوک چې تاسې ته غاړه درکوي، اجازه وکړه چې په خپله دې پرېږدي، ته مخکبوالی مه کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۴۰

ښه ښوونکی وساته.

۱۴۱

هره ورځ ورځپانه پېره.

۱۴۲

په وعده باندې وفا کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴۳

اولادونو ته دې د پیسو او د سپما ارزښت وروښایه.

۱۴۴

پـه یـوه کوچنـی جگـړه کـې بایلـل د یـوې لویـې جگـړې د گټلـو لپـاره قبـول کـړه.

۱۴۵

د نورو ښېگڼو (ښه والي) ته وگوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴۶
بې مفهومه کارونه په ډالۍ ورکولو مه هڅوه.

۱۴۷
په لومړنی لیدنه فریب مه خوره.

۱۴۸
هیڅ هغه فرصت له لاسه مه ورکوه چې د یو کارمند ښخه قدرداني وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴۹

پخوانیو دودونو ته درنښت لره.

۱۵۰

ملګرو ته په پور ورکوونه کې احتیاط کوه کنه نو دواړه، (پیسې او ملګری) به له لاسه ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۵۱

د ورځې اته (۸) گیلاسه اوبه څښئ.

۱۵۲

هیڅکله هغه غوټه چې په لاس خلاصیږي په چاړه مه پرې کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵۳

د وخت ارزښت وپېژنه، خپل او د نورو وخت مه ضایع کوه.

۱۵۴

هغه کسان په کار وګماره چې ستا څخه ځیرک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۱۵۵

د خوښیو لمانځلو چل زده کړه، حتی که په زړه کې خوښ هم نه یې.

۱۵۶

شوق کول زده کړه، حتی که د زړه څخه لیواله نه یاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵۷

هغه کسان چې درته ډېر ګران وي ښه ساتنه
ترې کوه.

۱۵۸

مغروره مه اوسه، مخکې له دې څخه چې
تاسې دې نړۍ ته راشې ډېر کارونه ترسره
شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۵۹

هر کله چې د لومړي ځل لپاره د يو چا سره ليدنه کوې نو د هغوی شخه د هغوی د معاش په اړه پوښتنه مه کوه، له خبرو شخه يې خوند واخله پرته له دې چې پر هغوی تور ولګوې.

۱۶۰

موټر دې چالان مه پرېږده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



١٦١

په کارونو کې هیڅکله د یو وکیل یا یو محاسب
څخه نظر مه اخله څکه هغوی داسې زده کړه
کړې ده چې تل په ستونزو پسې گرځي، بلکې
په حل لارو پسې نه گرځي.

١٦٢

غیبت مه کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱٦۳

د کورنـۍ غـړو تـه دې هـره ورځ د ښـو کلماتـو پـه کارونـې هغـو ته په نـاز ورکولـو د هغوی کارونه وسـتایه او وروښـایه چـې څومـره مینـه ورسره لـرې.

۱٦۴

که توان یې لرې نو کورنۍ دې د رخصتیو په سفر بوځه، د خاطرو ارزښت یې ډیر لوړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱٦٥

بدخويي مه کوه (بې ځايه غُرغُر مه کوه)

۱٦٦

د قمار وهلو شخه ډډه وکړه.

۱٦٧

له هغه چا شخه و وېرېږه چې د لاسه ورکولو لپاره څه نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱٦۸

خپل کار ته وخته حاضر شه او د کار تر اخیري ساعت پورې پاتې شه.

۱٦۹

موټر دې قفل کړه حتی که د کور په مخکې دې هم ولاړ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷۰

د یو سخت کار سره په مخ کېدو داسی عمل وکړه چې، ستا ماته غیر ممکنه ده، لکه ځنګه چې وایي: که د نهنګ ښکار پسې ورځې نو د پخلي وسایل له ځانه سره یوسه.

۱۷۱

مخکې له دې چې یو کار نور هم خراب شي په ښه وخت کې نومړی کار پرېږده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷۲

د خپل کلي د دکاندارانو مشتري اوسه حتی که لږ څه قیمته هم وي.

۱۷۳

له پیسو څخه د خوشبختی د راوستلو هیله مه لره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷۴

که شرایط هر څومره خراب شي حوصله دې پر ځای وساته.

۱۷۵

په یو عام ځای کې د غاښونو ږکی مه کاروه (په خوله کې ګوتې مه وهه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷۶

هیڅکله هم خپل قدرت د خپل ځان په بدلون کې کم مه ګڼه.

۱۷۷

هیڅکه هم خپل قدرت د نورو په بدلون کې اوچت مه ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷۸

په ځان کې صرفه جويي حتمي کړه، دا کار د برياليتوب اساسي امر دى.

۱۷۹

تل هڅه کوه تر څو د بدن تناسب دې وساتې.

۱۸۰

لوړې ارزوګانې ولره.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱۸۱

د بې ځایه مصارفو کچه راټیټه کړه.

۱۸۲

ځان په اسانۍ سره د لاسونو او پښو لاندې مه غورځوه، زده یې کړه تر څو په ادبي شکل سره (نه) و وایې.

۱۸۳

درد او رنځ دې د ژوند یوه برخه وګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸۴

ستونزو ته د پرمختګ لپاره د فرصتونو په شان ګوره.

۱۸۵

له ژونده دې بې هدفه تمه مه لره.

۱۸۶

د وخت په مدیریت پوه اوسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸۷

پـه لاسي ارې او ختـک (چکـش) بانـدې کار کـول زده کـړه.

۱۸۸

خپـل برياليتـوب دې د ارامتيـا، سـلامتيا او عشـق پـه مقابـل کـې وسـنجوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۸۹**

هرکله چې د یو چا کورته د خوړو لپاره دعوت شوې نو د خوړو صفت یې وکړه.

**۱۹۰**

که د شپې له خوا د یو چا په کور کې پاتې شوې نو د خوب ځای دې سهار کې منظم کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹۱

۵ سلنه کې عواید دې په خیریه چارو کې ولګوه.

۱۹۲

هیڅکله هم د ښښنې قدرت کم مه ګڼه.

۱۹۳

هیڅکله هم د مینې قدرت کم مه ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹۴

کچېرې هر وخت په غوسه شوې او فکر کوې چې والدینو، مېرمنې او اولادونو ته بد رد وایې نو ژبه په غاښ کلکه ونیسه.

۱۹۵

د ستونزو په بیانولو دې نور مه سترې کوه، که ستا خخه چا پوښتنه وکړه چې حال دې څنگه دی؟ و وایه: (ډېر ښه دی) او که ویې پوښتل چې کار او کسب دې څنگه دی؟ و وایه: (عالي دی ورځ تر بلې ښه کېږي)

(c) ketabton.com: The Digital Library





۱۹۶

مخالفت کول په ښه رویه سره زده کړه.

۱۹۷

ټولنیز اوسه، خو چا ته ضرر مه رسوه.

۱۹۸

د پریکړې کولو د مخه د دواړو لورو خبرې واوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹۹

د حسد ځخه ځان وژغوره ځکه چې حسادت د ټولو بدبختیو سرچینه ده.

۲۰۰

د ټولو خلکو سره مؤدب اوسه.

۲۰۱

که د ټولو کارونو د ترسره کولو لپاره پوره وخت نه لرې نو لومړیتوبونه ترسره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۲

هیڅکله مه وایه چې وخت نه لرم، تاسې دقیقاً د ورځې په اوږدو کې دومره ساعتونه په واک کې لرئ څومره چې، پاستور، میکل آنژ، مادرترزا، هلن کلر، لئوناردو داوینچي، توماس، جفرسون او آلبرت اینشتین په واک کې درلودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۲۰۳

په يوه ښه مفکوره عمل کول وروسته مه پرېږده، ځکه نورو هم د دې فرصت په اړه فکر کړی دی، مګر برياليتوب د هغه چا وي چې د نورو څخه د مخه په عمل لاس پورې کړي.

۲۰۴

زړور اوسه، کله چې تېر وخت ته ګورې، په هغه څه به پښيمانه شې چې نه دي وي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۵

په یاد لره چې گټوونکی هغه کارونه تر سره کوي چې د بایلوونکو زړونه یې تر سره کول نه غواړي.

۲۰۶

په فرصت پسې اوسه، نه امنیت، د کښتیو لپاره د امنیت ځایی بندرگاه وي، خو د وخت په تېرېدو یې شاید د یخ پوستکی خراب شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۷

له (فرصت) څخه له خپله وسه کار واخله.

۲۰۸

د مسافرت په وخت کې دې د ځنګ بیګ کې یو کارت کېږده چې نوم، د ټیلفون شمېره، د یوه نږدې خپلوان د ټیلفون شمېره او ستا په اړه نور اړین معلومات پکې لیکل شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۹

د تېرو کړنو د ارمان پرځای د راتلوونکي لپاره ځان چمتو کړه.

۲۱۰

د پخوانیو ملګرتیاو شور تازه ساته.

۲۱۱

هغه خلک چې ځانته صادقه وايي، خارنه یې کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱۲

ژوند دې داسې خوشحاله تېر کړه چې تا حیران کړي، نه لکه یو مثال.

۲۱۳

د (ستونزې) د کلمې پرځای د فرصت کلمه کاروه.

۲۱۴

د خپلې خوښې کتاب دې له سره ولوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱۵

داسې ژوند وکړه، چې وکولای شي د قبر په شناخته دې ولیکي (پښیمانه نه و).

۲۱۶

د مېرمنې سره د جنجال په وخت کې هیڅکله هم اطاق مه پرېږده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱۷

فکر مه کوه چې اوچت قیمت د ښه کیفیت نښه ده.

۲۱۸

هیڅ یو فرصت دې د میني د ښکاره کولو لپاره له لاسه مه ورکوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۲۱۹

د اړتیا وړ قاموس دې د ځان لپاره پیدا کړه او هغه ته تل مراجعه کوه.

۲۲۰

قیمتي ورقې دې په یو بانکي صندوق کې ساته.

۲۲۱

د ملي ورځو په لمانځلو کې ګډون کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۲۲

د عاشقانه اړیکو د خرابیدو په خاطر ګناه پخپله غاړه واخله.

۲۲۳

ځان په خپلو معیارونو و سنجوه نه د بل چا په معیارونو.

۲۲۴

قاطع اوسه، حتی که کوم وخت اشتباه هم وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۲۵**

کله چې نور تا ته اړتیا لري، هغوی ته ځان حاضر کړه.

**۲۲۶**

کوښښ وکړه تر خو اولادونه دې ځان ښه درک کړي، دا به تر ټولو اړین کار وي، چې ته یې د هغوی د راتلونکو بریالیتونو لپاره ترسره کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۲۲۷

د غرېدا او چوپتیا لازم او مناسب وخت وپېژنه.

۲۲۸

هره ورځ یو کوچنی کار د خپلې کارې اوضاع د بهبود لپاره تر سره کړه.

۲۲۹

له هغه چا سره معامله وکړه چې له تا سره معامله کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲۳۰

په یاد ولره چې هیڅ یو کس نه شي کولی په یوائځې ځان یو څه لاس ته راوړی، منندوی زړه ولره او د هغه چا قدر وکړه چې له تا سره یې مرسته کړې ده.

۲۳۱

تر ټولو ښه تولیدات او خدمتونه دې مشتریانو ته برابر کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۲۳۲

دلـې او تپلـې لـه يـاده وباسـه، تـازه او عـالي مفکـوره چې نـړۍ تـه يـې تغييـر ورکـړی دی، تـل د يـو شـخـص د کار پايلـه ده.

۲۳۳

د کړنـو مسـؤليتونه دې پـه خپلـه غـاړه واخلـه، مه پرېـږده چې بـل څـوک ستا لپـاره دا کار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۳۴

د لیکلو پر مهال د اصلاح لپاره ځای پرېږده.

۲۳۵

د نورو په مخکې دې د اولاد صفت کوه او پرېږده چې هغوی یې واوري.

۲۳۶

مبتکر اوسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۳۷

د باور او اعتماد وړ اوسه.

۲۳۸

تر ټولو کوچني پرمختګونه هم تقدیروه.

۲۳۹

د مسواک او غاښونو د کریم د کارولو په وخت کې د اوبو نل ته پام ساته.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲۴۰

په دې وپوهېږه چې ملکیت، زور او یا هم شهرت خوشبختي نه راولي، بلکې خوشبختي راوستونکې اړیکه د ملګرو سره ستاسې مینه ده.

۲۴۱

د خطرناکې ناروغۍ سره د مخ کېدو په صورت کې لږ تر لږه د ۳ ډاکټرانو نظر واخله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۴۲

آزاد، انعطاف پذیر او پلټونکی اوسه.

۲۴۳

په عمومي لارو کې د چټلۍ غورځولو سره مبارزه وکړه.

۲۴۴

خپل پام دېته ساته چې کارونه ښه تر سره کړې، نه لوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲۴۵

د شپې له خوا د بې ځایه ګرځېدو څخه ډډه وکړه.

۲۴٦

کله، کله خپله لاره کږوه او دې ښکلو منظرو لرونکو مسیرونو څخه تېرېږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۴۷

که تا او ستا کوروداني یو له بل سره جنجال درلوده له دې شخه صرف نظر وکړه چې ځوک په حق دي، ښښنه وغواړه او ووایه: (پښیمانه یم چې تاسې مې ناراحته کړلئ، کېدای شي ما وبښئ؟) دا کلمې جادوګرې او شفاء ورکوونکې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۴۸

د ځوانانـو د کړنـو نندارتونونـو تـه ولاړ شـه او لیدنـه تـرې وکـړه، پـه دې سره بـه دې پـه ځـوان نسـل بـاور قـوي شي.

۲۴۹

لومړیتوبونـه دې مشـخص کـړه، هیچـا د مـرگ پـه بسـتره کـې نـه دی ویـلي: (کاش چـې د کار پـه دفـتر کـې مـې ډېـر وخـت تېـر کـړی وی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۵۰**

د یو کار د تر سره کولو په وخت کې تنبلي مه کوه.

**۲۵۱**

د خپلو اولادونو خبرو ته دې غوږ ونیسه.

**۲۵۲**

د خپل شهرت ساتنه دې کوه ځکه چې دا دې یوازینی پانګه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۵۳

د نورو د بریالیتوب لیواله او مشتاق اوسه.

۲۵۴

کله مو چې د ښېګنو تعریف او توصیف کیږي له نورو سره مو نوموړي ښېګنې شریکې کړئ.

۲۵۵

یو ملګری پیدا کړه چې موټر ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۵۶

له هغوی ډېر کار وکړه چې له تا څخه یې تمه کېږي.

۲۵۷

احساساتو ته دې پر ځان د غلبې اجازه مه ورکوه.

۲۵۸

فکر دې سم کړه چې عمل دې سم شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۵۹

کله چې تليفون ته ځواب ورکوې نو په ژبه کې دې صداقت، محبت او انرژي لره.

۲٦۰

کله چې له يو نا اشنا کس سره ملاقات کوې، په لوړ يې لاس ور اوږد کړه او ځان معرفي کړه حتی که مخکې دې ليدلی هم وي، هيڅکله هم دا فکر مه کوه چې تا په ياد کې را ولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۲٦۱

که هر څومره خلک پېژنې، چې یو څه یې زده دي، نو له هغوی څخه یې زده کړه.

۲٦۲

هیڅکله زور ویل او مینه ناک عمل کم مه ګڼه.

۲٦۳

ډېره موسکا کوه، طبیعي شوخي تقریباً د ټولو دردونو دوا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲٦۴

له (نه پوهېږم) ویلو څخه مه وېرېږه.

۲٦۵

له (اشتباه مې وکړه) ویلو څخه مه وېرېږه.

۲٦٦

له (مرستې ته اړتیا لرم) ویلو څخه مه وېرېږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲٦۷

له (پښېمانه یم) ویلو څخه مه وېرېږه.

۲٦۸

هیڅکله دې خپل صداقت مصالحې ته مه پرېږده.

۲٦۹

د اولادونو سپورتي سیالیو او په نورو پروګرامونو کې ګډون وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲۷۰

ټولو هغه کسانو ته چې د رزق د پيدا کولو لپاره هر خومره نا ځيزه کار کوي؛ احترام ولره.

۲۷۱

تل هغه کوه تر څو له ځانه سره د يادښت کتابچه او قلم ولرې ځکه کله، کله د سړي ذهن کې با ارزښته افکار راپيدا کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۷۲

که د خپل ذوق مطابق دنده دې پیدا کړه نو د حقوقو د اندازې پرته یې قبوله کړه، که له ځانه وړتیا وښایې، نو حقوق به دې با ارزښته او لوړ شي.

۲۷۳

نویو او تازه مفکورو پسې ولاړ شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۷۴

د نـورو خلکـو اهمیـت او خوشـبختیو لپـاره فرصتونـه پیـدا کـړه.

۲۷۵

د هـرې لحظـې ارزښـت د راتلوونکـې لحظـې پـه فکـر بأنـدې لـه لاسـه مـه ورکـوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۷٦

کار تـه دي نظـم ورکـړه، کـه نـه پوهېـږې پـه دي اړه کتـاب مطالعـه کـړه.

۲۷۷

د چا خبره مه قطع کوه.

۲۷۸

د هرو خوړو دمخه له خدای (ج) مننه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۲۷۹

د ځان لپاره دې لنډ مهاله او اوږد مهاله موخې وټاکه.

۲۸۰

مخکې له دې چې بهر ته سفر وکړې او د هغو ځایونو په اړه چې لیدنه به ترې کوې، معلومات تر لاسه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۸۱

د لویو ستونزو خارنه کوه، هغوی اکثراً د (لویو فرصتونو) په جامه کې ځان ښکاره کوي.

۲۸۲

که داسې دعوت نامه دې تر لاسه کړه چې ځواب یې غوښتی و، فوراً ورته ځواب ورکړه، که د تیلفون شمېره یې مل وه، زنګ ورته ووهه او که نه، نو یو یادښت ور ولېږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۸۳

هیڅکله هم د کار په سر د ستړیا، غوسې او ستوماني اعتراف مه کوه.

۲۸۴

هر سهار له خوبه د نیم ساعت وختي راپاڅېدو پرېکړه وکړه او دا کار تر یو کاله پورې تر سره کړه، په دې سره به دې ډېرې ورځې په نړۍ کې له خوبه د راپاڅېدو له مدرکه زیاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۸۵

هیخکله چې یو شي ته اړتیا نلرې، فقط د لیلام په خاطر یې مه اخله.

۲۸۶

یوه غلطي دوهم ځل مه تکراروه.

۲۸۷

۱۰ سلنه عواید دې سپما کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲۸۸

هیڅکله د هغه خلکو سره د پیسو په اړه خبرې مه کوه کوم چې ډېر غني او یا هم ډېر فقیران دي.



۲۸۹

که پوهېږې چې په سر ضربه خوري نو سر دي اوچت مه نیسه، ټیټ شه خو حرکت کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۹۰

د خپل جیب او اقتصادي توان په انحصار کې اوسه.

۲۹۱

د اولادونو تفکر ته دې ترجیح ورکړه.

۲۹۲

د تل لپاره څو د حل لارې په مخکې ولره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۹۳

د هغه څه په اړه چې غوښتل دې تر لاسه یې کړې د سختی مبارزې څخه وروسته وخت ځنډ ګړې کړه او له هغوی څخه خوند واخله.

۲۹۴

هیڅکله هم د یوې اړیکې په یووالي او روغې جوړې کې د کلیمو قدرت کم مه ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۲۹۵

ستا ذهن کولی شي چې هره لحظه یو فکر ته ځای ورکړي، داسې یو کار وکړه چې هغه فکر مثبت او جوړونکی وي.

۲۹۶

د نعمتونو قدر وپېژنه.

۲۹۷

تل دې د مور د حال پوښتنه کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۹۸

د خوشبخته خلکو سره وخت تېره وه.

۲۹۹

د اولادونو له ښوونکو څخه دې مننه کوه.

۳۰۰

له قصده څوک مه خجالتوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۰۱

دا له یاده مه باسه چې ستا کردار ستا تقدیر دی.

۳۰۲

که د یو څه په اړه نه پوهیږئ پریکړه مه کوئ.

۳۰۳

د خپلو تېروتنو د سمونې په اړه ژر اقدام وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۳۰۴
په وطن او وطندوستی مه شرمیږه.

۳۰۵
په خپله حافظه ډېر باور مه لره، اړینې خبرې لیکه (نوټ کوه یې)

۳۰۶
له حده ډېر مه مهربانه کېږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Life Little Instructions

Writer: H. Jackson B.
Transalated by: Shaukatullah Abid

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Life little Instructions

Writer: H. Jackson B.

Transalated by: Shaukatullah Abid

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**